پښتو ژباړه: رحمت آريا

۲۰۲۳/۱۱/۲۵

# د افغانستان سياسي - تأريخي - جغرافيوي ژورنال
# شپږم ټوک

۳۰۰ پرله پسې برخه

## کابل
## او د افغانستان سويل – ختيځې

ايډيت:
ډاکټر لودويګ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1985

* **دهانِ غوربند**: ۵۵ ــ ۳۴، ۱۶ ــ ۶۸ «ن»: دا د شيبر او د دهانِ بوتيان تر منځ د غوربند د سيند د غاړې په اوږدو کې يو کلی دی.

**دهانِ ګلي**: [1]: ۵۱ ــ ۳۴، ۴۲ ــ ۶۶: دا د اوبو يو لوی بهير دی چې د «سچک» او «سبز درې»[2] د نالو د يو ځای والي له کبله جوړ سوی دی او اوبـهٔ ئې د يوهٔ تنګي له منځه تــېــرېــږي او د يک ولنګ په ولسوالي کې له مرغي تقريباً ۱۷ مايله پورته د بندِ امير له سيند سره يو ځای کــېــږي. د دې سيند د غاړې په اوږدو کې د «کيليګان»[3] کوچني کلي واقع دي چې د «کيريګو خم ِ آبه هزاره ګانو» [4] ۳۰ کورنی په کې دي. د سيند د کيڼې غاړې په اوږدو کې يوه کوچنی کلا او يو شمــېــر سمڅې دي چې د وښو، جوارو او نورو شيانو د زيرمه کولو لپاره او هم د استوګنې د کورونو په شان کارول کــېــږي. (ميتلند)

**دهان جلمش**: وګورئ: جلمش

[1] -DAHAN -I -GUL I
[2] -Suchak and Sabz Dara
[3] -Kiligan
[4] -Kirigu Kham -i -Aba Hazaras

**دهانِ کنک**: [5]: کانک: ۴۳ ـ ۳۴، ۵۲ ۰ ۶۶ «الف»: دا د یک ولنگ په ولسوالي کي یو کلی دی چي د «کنک» په منځغري کي واقع او د تکانه یانو ۲۰ کورنی په کي استوګني دي. (میتلند)

**دهانِ خوشنود**: دا یو کلی دی چي د دایزنګي هزاره ګانو تقریباً شل کورنی لري او د دولت یار ـ کابل د عمومي سړک پر غاړه موقعیت لري.

**دهانِ قول**: ـ ۳۴، ـ ۶۶: دا د «غیز او/ غز آب- ژ» [6] د درې لویدیځ منځغری دی چي له منځه ئـي هلمند مخ پر سویل تـېـرېـږي. (بررتن)

**دهانِ مرغي**: وګورئ: مرغي

**دهانِ شور**: دا د لال / لعل د دایزنګي په ولسوالي کي یو کلی دی. په دې نوم یو ځای په ۳۶ ـ ۳۴، ۳۱- ۶۶ «ج» کي او یو اوب یللونکی په ۲۷ ـ ۳۴، ۱۱ ـ ۶۶ «ج» کي موقعیت لري.(لودویګ آدمک)

**دهانِ ترنک** [7]: ـ ۳۴، ـ ۶۶ ؛ دا یو پراخ او ډبرین منځغری دی چي خولـۀ یا مدخل ئـي دیر ارت او باتلاقي دی او د یک ولنګ په ولسوالي کي موقعیت لري. اوبـۀ ئـي شمال ختیځ لور ته د رودِ بندِ امیر پر خوا بهیـږي، د «سبز درې» د سویل ختیځ په تقریباً ۸ مایلی کي یو سړک د یک ولنګ له درې څخه تـېـرېـږي. د دې منځغري په منځ کي د ۲۰ کورونو یوه کوچنی کلی دی؛ او کوز په منځغري کي ښي لاس ته څو نور کورونه په اساسي درې کي ښکاري. د منځغري په پورتنی برخي کي د دنګي کرنیزې ساحي په ژی کي په کیڼ لاس کي د «سرِ دشت» کلی دی چي ۲۰ کورونه لري. (میتلند)

**دهان زلکان**: وګورئ: زلکان [8]

**ډهله**: وګورئ: پولاده

**ډهله**: ـ ۳۳، ـ ۶۷: دا د «ماهشان/ مهشان» [9] د درې په سر کي هغه ځای دی چي د ارغنداب سیند را پورته کـېـږي.

**دایک**: **یا: ده یک**: ۱۷ ـ ۳۵، ۱۲ ـ ۶۹ «ن»: دا د پروان له درې تقریباً ۴/۱ ـ ۱۸ مایله پورته د سالنګ په درې کي د ۳۰ کورنو یو کلی دی.

**دای چوپان**: دا هزاره ګانو په قومي ویش کي یوه له اصلي او اساسي څانګو څخه ده.

**دای کلان**: دا د شیخ علي هزاره ګانو یوه څانګه ده. (کیو. وي)

**دای کندي**: ۵۷ ـ ۳۵، ۳۳ ـ ۶۷ «الف»: دا په هزاره جاتو کي یوه ولسوالي ده.

---

5 -DAHAN -I -KANAK
6 -Ghizao valley
7 -DAHAN -I- TARNAK
8 -DAHAN -I- ZALIKAN See ZALIKAN
9 -Mahshan valley


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

* **دای میر داد:** ۱۳ – ۳۴، ۱۸ – ۶۸: دای میرداد د وردکو «یا میدان» د ولایت یوه علاقه داري ده. دا علاقه داري ۱۳۵۷ کیلومتر مربع مساحت لري او د وګړو شمــېـر ئـي د ۴۱۴۰ تر ۷۰۶۹ تنو پورې چې بزګرې پرګني دي اټکل سوی دی. دا علاقه داري له لویدیځ او سویل لوري له ناور او د بهسودو له مرکز سره، له شمال لوري له دوهم بهسود سره، له ختیځ لوري له جلریز، نرخ او چکِ وردک سره کرښه لري. دای میرداد ۱۴۳ کلي لري چې یوازې ۲ کلي ئـې له ۵۰۰ تنو ډېـر استوګن وګړي لري. لنډ مهالي مجلې دا کلي په لاندې ډول لیست کړي دي:

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| انکه | Anka | سادو خیل | | نازک خیل | | چنګهٔ علیاء | Changa- i - Ulya |
| دالان | | میران «میدان جلګه» | | بخشک | | هجکه «کنجیکه» | Hajka (Kajika) |
| بادول | Badol | موکه «موکه جلګه» | Moka (Moka Jelga), | شاه قدم | | کارینګه | Karinga |
| کنج | Kunj | فولادي | | محمد خیل | | احمد خیل | |
| پای – ی - بولاق | | خماري | | علي جان خیل | | رشید | |
| اورمړ «ارمیر» | Ormal (Armir) | ابراهیم زي «مریم زي» | Ibrahim - zai (Maryamzai) | دادو خیل | | سفید دیوار | Safed Dewar |
| قول زنګي | | کودي «کدي» | Kodi (Kadi) | اوزبکي | Ozbaki | کش قول | Kushqol |
| برخان جوی «برخان جو» | | سنګ شانده «قریه سنګ شانده» | | ناهور جوی | | پنج قشلاق | |
| سرخان تو | | محمد یار خیل | | للندر | | کدګک | Kadgak |
| شاه منصور | | لشکري | | پیره | Pirah | چتو | Chatu |
| دوراني | | کاریز | | ګلي | | شار توغي «شیر توغي» | |
| فکر «پکار» | Fekr (Pekar), | باهک | Bahak | ګرم آب | | کوتهٔ خیاط | |
| کوتهٔ سید علي | | کوتهٔ درک | | سیاه خوال | Siah Khawal | بودک | Bodak |
| دولت شه «دولت شاه» | | ګیدارګو | Gidargo | کوتهٔ فیض | | قریهٔ سادات | |
| تنګي سیدان «تنګي سادات» | | سفید قاده | Safed Qadah | دشتِ نو | | بغلک | |
| نخشین «نقشین» | | قرقت | Qarqat, | کوتهٔ آشا | Kota -i -Asha | دم قرق | Dam Qarq |
| سور سینګ «قریهٔ سور سینګ» | | خارخیل | Khar Khel | قوتون علیاء | Qutun -i - Ulya | قوتونِ سفلی | |
| سایه چغر | Saya Chagar | کوتلِ سفلی | | کوتلِ علیاء | | بدرغه | Badragha |
| دشتِ قادر/ قدر | | شاه یار | | قلعهٔ ملایان | | چک خورِ سفلی | |
| ګرد بید | Gard Bed | بولغهٔ حسیني | | باري قول | | جور سنګ «جوسه سنګ» | |
| جَو قول | | کوتهٔ جو قول | | زردک | | سرخي | |
| علیاء تک | | قول دادا «قول دادي» | | قولِ مغل | | سرجنګل | |
| قولِ راه | | کوتهٔ سلیمان شاه | | قولِ نعمت | | سرِ قول | |
| تخت | | ناري «باري» | | بیخِ کوه | | شادي مرده | Shadi Murdah |
| کوتهٔ سر سنګ «کوتهٔ جنګ» | | سنګ پل «سنګِ پل» | | فخ راه/ فاخره | Fakhrah | فاخچه قلعه «پخچه قلا» | |
| قریهٔ تارا «تاره» | | سوخته | | کوته خریده | | ګردن حصار | |
| دراز سمچ | | قول ولي | | قولِ بانو | | دهانهٔ ایر کنک | |
| کوته جمعه | | سرقاش | | یک رویا | | قولِ بانوی علیاء و سفلی | |
| کتب خیل | | اورمړ کتب | | حکیم خیل/ حاکم خیل | | اوچه ناهور جوی | |
| چاردیوال | | پار قلعهٔ | | کاریزِ فولاد | | دیوال | |
| قاشِ سیدان | | تنګي دیوار | | قریهٔ جر | | غجورک | |


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليرلو مخکې په ځیر و لولۍ

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| كادول | Kadol | قول ِ غولي | | چكه خورِ علياء | | كوټـۀ علي محمد | |
| سفيد ناوه | | گرم آبِ علياء | | گرم آبِ سفلی | | كوټـۀ دګګ | Kota -i- Dagak |
| ګرداو سفلی | | قرقت سفلی | | سل – ی- دستم نيلی – ی- رستم | Sel -i- Dastam Nil - i- Rustam | آب پرانک | |
| شاهي خيل | | سياه چغر علياء | | تويكه | Toyaka | كولاخ/ كلخ | Kulakh |
| چنګـۀ سفلی | | سلطان خيل | | هزاره | | كوټـۀ نظر علي | |
| قردن ناصر | Qurdun- i- Naser | قول ِ افغان ګل | Qol -i - Afghan Gul | بند قول | | پيش تولک | |
| سياه كک | Seyahkak | | | | | | |

**دای زنګي:** دا د هزاره جاتو يوه ولسوالي ده.

* **دكري**: [10]: ۵۷ – ۳۴، ۷ – ۶۹ «ن»: دا د چاريكارو د سويل لويديځ په تقريباً ۶ مايلی كي د كابل د سړک په لويديځ كي يو كلی دی.

**لويه ډكه:** [11]: ۱۳ – ۳۴، ۳ – ۷۱ «ن»: لوړوالی: ۱۳۰۰ فيټه. دا د جلال آباد په ولسوالي كي له لنډي كوتل ۲/۱ - ۱۲ مايله ليرې د كابل د سړک دغاړې په اوردو كي يو كلی دی. دا كلی د كابل د سيند پر ښی غاړه د پيالی په شان يوې ځمكنی كاسې كي چې له لويديځ او سويل لوړيو ځخه غرونو محصور كړی دی واقع او شمال لوری كي ئـې سيند بهيـږي. خو په سويل كي د سيند او د غرونو تر منځ يوه تشه ده او د همدې تشي له منځه د خيبر له كوتله راغلی سړک تـيـرېـږي؛ د دې كوتل له لويديځ وتځ يا خروج ځخه واټن تقريباً ۳ مايله دی.

دې كلي كي د مهمندو او شينوارو تقريباً ۱۲۰ كورنی ژوند كوي، په «۱۹۰۴» كي ئـې ملک مير مهمند نوميدهٔ. د كلي استوګن وګړي ۳۰۰ غواګاني او ۷۰۰ پسونه او وزې لري. د كلي د غنمو او وربشو كلنی حاصل په اوسط ډول تقريباً ۵۰۰۰ هندي مونډه دی. د ځمكو ماليات ئـې د هر جريب پر سر د ۲ مونډو په نرخ په نقدو او ۲۰ مونډه په جنس محاسبه كـېـږي. د ۲۰۰ تنو خاصه دارانو يو ځواک چې د «لي مت فورډ» [12] توپک لري د يوۀ «سرهنګ» [13] په مشری دلته قرارګاه لري. په ژمي كي عثمان زي كوچيان له خپلو ۳۵۰ اوښانو سره او د لالپوری غلزي له خپلو ۲۵۰ اوښانو سره د دې ځای په ګاونډ كي ميشت كـېـږي.

د ډكي دره تولټال ۱ مايل ارتوالی لري، په كيڼي غاړې كي غرونه د سيند تر ژی پوری رانـيـږدي سوي دي. سيند په ځو كانالونو كي چې كوچنيو ټاپوګانو سره جلال كړي دي بهيـږي؛ د سيند بستر تول ټال تقريباً ۴۰۰ يارډه ارت دی. د سيند اصلي او لوی كانال د ۱۹۰۴ز كال د جون په مياشت كي جوړ سو چې په ښی غاړه كي وبهيـږي او دلته تقريباً ۳۰ فيټه لوړ وو. په سړې هوا كي د كوچنيو بيړيو يا ماكو ګانو يو پل د ډكي او لالپوري تر منځ اينودل كـېـږي؛ دا پل له ۱۶ كوچنيو بيړيو ځخه جوړېـږي چې د بيړيو پر سر د لرګيو تختي ږدي او د لارې ارت والی ئـې ۱۲ فيټه دی؛ كله چې

10 - DAKARI
11 - DAKKA (LOE)
12 -Lee -Metford rifles
13 -Sarhang

واوري ویلي سي دا پل، بیرۍ او تختي په عام ډول یا ئـي اوبـۀ وړي او یا ئـي بیرته خلک له یو بله جلا کوي څکه په پسرلي کې د سیند د اوبو سطح لوړېـږي.

په ۱۹۰۵ز کال کې دلته د پلـۀ د سویلي انتها په مقابل لوري کې له ختو جوړ په دیوالونو کې محصور یو سرای جوړ سو؛ دا سرای له لنډ واټن څخه تر بشپړ تسلط لاندې دی. د کلي د لویدیځ په یو مایلۍ کې یوه زړه کلا ده چې امیر شیرعلیخان په ۱۸۷۶ز کال کې ودانه کړې وه خو اوس «۱۹۰۵» کال کې کنډواله ده او څوک په کې استوګنه نـۀ لري. کلا د ۴۰۰ په ۵۰۰ یارډو کې د ارتوالي په لرلو یوه بې قاعده بڼـۀ لري او دیوالونه ئـي ۱۵ فیټه لوړ دي. دا کلا په خپل هر ګوټ کې یو ګردی مورچل لري او د دیوال په هر مخ کې یویو نیمه ګردی مورچل لري. د کلا دننه څو ګاه ګانې سته. دا کلا د سیند ښۍ غاړې ته نبـږدې موقعیت لري چې په مقابل لور کې ئـي د کلا له شمال ختیځ ګوټ څخه د ۱۳۰۰ یارډو په واټن د لالپورې ښارګوټی موقعیت لري. له شمال لویدیځ او له سویل لویدیځ لوریو څخه د غرونو ټیټ مهمیزونه د کلا پر منځ باندې د ۴۰۰ یارډو په واټن بشپړ تسلط لري.

دا کلا موږ د دوهمي افغان جګړې په لړ کې ونیوله، زموږ عادي ګارنیزیون له ۲ توپونو، یوې برتانوي پلي قطعې، د بومي سپارۀ ځواک یوې رسالې او د بومي پلي ځواک له یوې لیوا څخه جوړ وو. وروسته ثابته سوه چې دا ځای زموږد سرتـېـرو لپاره زښت ډېـر غیر صحي دی، په دې کې نیمونیا تر ټولو نورو ناروغیو، ډېـره وژونکې وه. دلته زموږ د ځواک پر وړاندې کوم مقاومت ونـۀ سو، دغه ځای د خپل موقعیت له اړخه زښت ډېـر اهمیت درلود چې مقابل لور کې ئـي لالپوره او د پـېـښور له درې څخه د څو راغلو لاره د یو ځای کیدلو ټکی وو. په دیوالونو محصوره برخه کې چې په سویلي برخه کې وه او د جګړې په ترڅ کې مو د کمیساری د انګړ په توګه کاروله اوس په بشپړ ډول تری تمه سوې ده.

د کلا په لویدیځ کې د هرڅومره لوی ځواک چې وې هغه ته د کمپ وهلو لپاره ځای سته. د څښاک د ښو اوبو لویه اندازه چې پای نـۀ لري له سیند او له «باغ» [14] څخه ترلاسه کـېـږي همدا شان د اوبو نوره پریمانه اندازه هم سته چې مخ ئـي د ډکې پر لور په آسانه را اړول کیدای سي. تدارکات، د (تقریباً ۱۰۰۰ مونډو نا ژرندو سویو غلاتو او د لس زره څارویو لپاره علوفه باب چې د یوې ورځې کفاف ئـي وکړي) له دې ځایه تر لاسه کیدای سی.

د ګاونډ سیمه د سودیم کاربونات په څګونو له سیند څخه تر یوۀ واټن پورې پوښل سوې ده چې له پایلي څخه ئـي رطوبت ډېـر سوی دی. دلته د اوښانو او ترانسپورتي څارویو د څر لپاره ښه پوونده سته. سون توکي له دې ځایه ترلاسه کیدای سی. دلته ټول مسافرین باید پاسپورت ترلاسه کړي او خپل ګمرکي مالیات ورکړي. (جانستن، ملسن، ونلیس، آی. بي. سي)

**ډکه**: ۳۴، ۴۳، ۶ ــ ۶۹ «الف». لوړوالی: ۳۸۰۰ فیټه. دا د کوهدامن په ولسوالي کې یو کلی دی چې د بابه قشقار د سویل په ۲/۱ - ۳ مایلۍ کې د شکر درې د سیند له کیڼې غاړې څخه د یوۀ مایل واټن په لیرې والي موقعیت لري. ویل کـېـږي چې دلته ۲۰۰ کورونه دي. استوګن وګړي: تاجیکان. (کینلاک، آی. بي.سي)

* **ډکوی**: [15]: ۴۳ ــ ۳۴، ۵ ــ ۶۹ «ن»: دا د کابل په شمال کې، ستالف ته د نیمایي لارې په اوږدو کې یو کلی دی.

[14] -Bagh
[15] -DAKUI


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

* **دلی**: [16]: ۹ – ۳۳، ۲۳ – ۶۹ «ن»: دا د «زیروک» [17] په ختیځ کې د سلطان خیلو په سیمې کې یو کلی دی.

**دالان**: ۴۸ – ۳۲، ۳۷ – ۶۷: دا د مقر په ولسوالي له «غوجان» (آغاو جان) [18] څخه ۶ مایله لیرې او د غزني په سویل کې یو کلی دی. استوګن وګړي ئې علي خیل غلزي دي او د علوفه بابو تدارکات لري. (لیچ) په دې نوم یو بل ځای په «درهٔ جلګه» کې د «میران» [19] د ختیځ په تقریباً ۵ مایلی کې په ۱۳ – ۳۴، ۲۲ – ۶۸ «ن» کې موقعیت لري. (لودویګ آدمک)

**دلاشي**: [20] : ۴ – ۳۵، ۳۸ – ۶۸ «ن»: دا د تګاب د سیند په بر سر کې یو کلی دی چې د بازار بدخشي په شمال ختیځ کې موقعیت لري.

**دلنه**: [21]: ـ۳۳، ـ ۶۸: دا د غزني په ولسوالي کې یو کلی دی. دا د غزني د سویل لویدیځ په ۳۶ مایلی کې یو کلی دی. (تورنتون)

**دلتمور**: [22]: دا د هزاره ګانو یوه کوچني قبیله ده چې کومه بله فرعي څانګه نـهٔ لري او داسې ښکاري چې دوی افغانستان ته د ګوډ تیمور پر مهال راوستل سوي دي. (پیرت)

* **دلوزي کلی**: [23]: ۳۷ – ۳۴، ۳۹ – ۶۸ «ن»: دا یو کلی دی او په هغـهٔ ځای کې موقعیت لري چې د کابل سیند د نغلو پر بند ورځي؛ دا کلی د پنجشیر له سیند سره د یو ځای کیدلو د ټکي د سویل په څو مایلی کې موقعیت لري.

* **دم**: ۳۷ – ۳۳، ۳۰ – ۶۸ «ن»: دا د غزني په ختیځ کې د عثمان خیلو په سیمې کې یو کلی دی.

**دمي**: ۱۲ – ۳۴، ۳۷ – ۶۸ «ن»: دا د باد قول د شمال په ۲ مایلی کې د درهٔ جلګې د یوې څانګې دغاړې په اوږدو کې یو کلی دی.

**دامن: دامان**: ۲۱ – ۳۴، ۴۵ – ۶۷ «ن»: دا د راه قول په درې کې یو کلی دی. «وګورئ: راه قول» په دې نوم یو بل کلی د الینګار د سیند د غاړې په اوږدو کې د الینګار د سویل لویدیځ په تقریباً ۱۰ مایلی کې موقعیت لري. (لودویګ آدمک)

**دا مَرده**: [24]: دا د بهسودیانو یوه څانګه ده. (کیو. وي) د جاغوري هزاره ګانو یو څانګه هم په همدې نوم یادېـږي. په دې نوم یو ځای چې «**دا مُرده**» لیکل کـېـږي د هلمند د سیند د یوې څانګې پر غاړې د «خوش قول» په سویل ختیځ کې په ۹ – ۳۴، ۲۲ – ۶۷ «ن» کې موقعیت لري. (لودویګ آدمک)

**دامنج**: ـ ۳۴، ـ ۷۰: دا د درهٔ نور په لویدیځ کې یوه دره ده چې کونړ د سیند یوه څانګه ده. دلته په قوم صافي وګړي استوګن دي او تقریباً ۱۵۰ کورنی دي. (میسن)

---

16 -DALAI
17 -Ziruk
18 -Ghojan (Aghao Jan)
19 -Miran
20- DALASHI
21- DALNA
22 -DALTAMUR
23- DALWAZI KALAI
24- DAMARDAH



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**دانا:** [25]: ۲۷ – ۳۴، ۸ – ۶۹ «ن»: **دهٔ دانا** په چاردهي کې د کابل د سیند په کینه غاړه کې د «تیبا» او «ایندکي» [26] تر منځ یو کلی دی. استوګن وګړي ئـې تاجیکان، خواجګان او قزلباشان دي. په دې کلي کې لس کلا ګاني هم شاملې دي او د وګړو ټول تال شمـېـر ئـې ۳۰۰ کورنۍ دی. دا کلا ګاني په لاندې ډول دي:

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱ | قلعهٔ غلام صدیق | | تاجیک |
| ۲ | قلعهٔ میرزا محمد | | تاجیک |
| ۳ | قلعهٔ صمد | | تاجیک |
| ۴ | قلعهٔ برات | | تاجیک |
| ۵ | قلعهٔ خواجه خان | | تاجیک |
| ۶ | قلعهٔ ملا یوسف علي | | قزل باش |
| ۷ | قلعهٔ خواجه احمد | | تاجیک |
| ۸ | قلعهٔ ناظر ګل محمد | | قزل باش |
| ۹ | قلعهٔ آسیای بُـتـَـت | Kala -i -Asia -i -Butat | تاجیک |
| ۱۰ | قلعهٔ میرزا جعفر | | قزل باش |
| (آی . بي . سي. ) | | | |

په دې نوم یو بل ځای د «بازار ِ یک ولنګ» په سویل کې په ۲۸ – ۳۴، ۵۶ – ۶۶ «ن» کې موقعیت لري. (لودویګ آدمک)

**ډنډ**: ۳۷ – ۳۲، ۴۹ – ۶۷ «ن»: دا د سلیمان خیلو یو کلی دی چې ۳۰ کورونه او یوه کلا لري او د «دیرهٔ اسمعیل خان – غزني» د سرک پر غاړه موقعیت لري. دا کلی له دیرهٔ اسمعیل خان څخه ۲۳۸ مایله او د غزني له سویل څخه ۵۱ مایله لیرې دی. دا کلی تقریباً ۱۵۰ ایکره کرنیزه ځمکه لري خو له «دیهسای» [27] څخه پرته بل چیرته نبـړدې نورې اوبهٔ نـهٔ لري چې ۴ مایله ختیځ کې دی یا «نانی» [28] چې ۴ مایله سویل لویدیځ کې دی. دلته د اوښ د څریدلو لپاره ځایونه سته. (آی. بي. سي)

**ډنډ**: ۵۷ – ۳۲، ۲۳ – ۶۸ «ج»: دا د غزني د سویل په ۳۰ مایلی کې د ګومل کوتل ته د تللي لارې په اوږدو کې یو کلی دی چې استوګن وګړي ئـې سلیمان خیل غلزي دي او په یوې حاصل خیزې او ګڼ وګړې ولسوالي کې ژوند کوي. اوبهٔ ئـې له چینو څخه دي. (لیچ)

* **ډنډه**: ۴۸ – ۳۳، ۵۶ – ۶۹ «ن»: دا د کورم د سیند د غاړې په اوږدو کې د ځمکنیو د ختیځ په تقریباً ۸ مایلی کې یو کلی دی.

**ډنډ آب:** ۴ – ۳۴، ۴۲ – ۶۷ «ن»: دا د ګرم آب د سیند په سویل ختیځ کې د «کوهٔ میر» په شمال لویدیځ کې یو کلی دی.

25 - DANA : په انګلیسي متن کې ئـې ددې نوم انګلیسي بڼې مخ ته په عربي الفباء «دانه» لیکلي دي حال دا چې دا ځای هماغه «ده دانا» د کابل دی - ژ

26 -Thiba and Indaki
27 -Dihsai
28 -Nani


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

**ډنډک**: ۶ ــ ۳۳، ۵۰ ــ ۶۸ «ن»: دا د زرمت په ولسوالي کې «پټاني» [29] ته نېـږدې له غزني څخه تر «داور» [30] پورې د مستقيم سړک د غاړې په اوږدو کې يو کلی دی. دا کلی د ښپاندو ټيټو غونډيو په منځ کې واقع دی. (مک لين) په دې نوم نور ځايونه په ۵۲ ـ۳۳، ۳۷ ــ ۶۸ کې او په ۲۰ ــ ۳۳ ، ۵۳ ــ ۶۸ «ج» کې موقعيت لري.

**دندان: ــ ۳۳، ــ ۶۸**: دا د خروار د درې د شمال ختيځې برخې په سر کې يو کوتل دی. يوه لاره د خواجه انګور پر درې ورخېـږې چې د دندان کوچنې کلي ته تللې ده او بيا د يوې نرۍ اوږدې درې له لارې کوتل ته تللی چې د لارې سختوالی ئې ډېـر نـهٔ بلکه آسانه دی. د کوتل له سره د «التيمور» درې ته د کوزيدلو لاره سخته او د ډبرينې لارې له منځه کـېـږي خو ورسره بيا هم دا لاره د آسانو لپاره د تـېـريدلو وړ ده. (ګريسباخ)

**دندان شکن**: ۱۶ ــ ۳۵، ۳۷ ــ ۶۷ «الف»: دا د «کج کمر» يا «کمر زرد» [31] د غرونو په منځ کې په افغان تورکستان کې د «درهٔ يوسف» په سر کې يو کوتل دی. (وګورئ: څلورم ټوک) له دې کوتل څخه له «ميدانِ پای کوتل» [32] څخه تر «مزار شريف» پورې سړک تـېـرېـږي. د کوتل لاره ښتنه ډېـره ستوغه ده، او سختوالی ئـې ان د يابوګانو لپاره لا ډېـر دی خو که د کوتل په سر کې په دواړو خواوو کې د اوبو د راکوزيدلو وړې ځايونو او نورو شيوه او ستوغو ځايونو باندې کار وسي لاره آسانه کـېـږي او دا ډېـر کار هم نـهٔ دی چې ډېـر وخت دې ونيسي، ځکه خاورې او ښوينده خلاصې ډبرې سره ګډې سوې دي چې د لارې له سره بايد ليرې سي. د کوتل سرته په رسيدلو سره سړک د کابل او افغان تورکستان تر منځ پولې څخه اوړي. (آی. بي. سي)

**ډنډور**: ۳۲ ــ ۳۴، ۱۶ ــ ۷۰: دا په لغمان کې د الينګار د سيند د کيڼې غاړې په اوږدو کې او د کابل له سيند سره د الينګار د سيند د يو ځای کيدنې له ټکي څخه تقريباً ۳ مايله پورته يو کلی دی. دا کلی د چارباغ د لويديځ په ۲ مايلۍ کې دی. (واربرتن)

* **ډنډ و پټان**: [33]: ۴۹ ــ ۳۳، ۵۵ ــ ۶۹: ډنډ و پټان د پکتيا د ولايت يوه علاقه داري ده. دا علاقه داري ۱۶۳ کيلومتر مربع مساحت لري او د استوګنو وګړو شمـېـر ئـې د ۲۰۴۰ تر ۷۰۹۷ تنوپورې اټکل سوی چې بزګري پرګنې دي. دا علاقه داري له لويديځ لورې له څمکنيو.له سويل لورې له جاني خيلو، له سويل ختيځ لورې له ځاځي ميدان، له شمال لورې د درنګ له درې سره او له لويديځ لورې له پاکستان سره کرښه لري. ډنډ و پټان ۴۶ کلي لري او ۲ کلي ئـې له ۵۰۰ تنو ډېـر استوګن وګړي لري. لنډ مهالي مجلې دا کلي په لاندې ډول ليست کړي دي:

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| پټان | | ډنډ | | کګينه کلی «ګه ګينه» | Kagina Kalai (Gagina) | متوَ رخ | Mutwarukh, |
| لاندي کلی/ لنډی کلی؟ | Landi Kalai | نرۍ وروځه | Narai Wuraza (Narai Worazay) | ايست يا «سيلی يا» | Istiya (Seliya) | څپری قارهٔ آخ زري | Tsaprai Qara -i -Akhzari |

29 -Patanai
30 -Dawar
31 -Kajkamar, or Kamarzar
32 -Maidan -i -Pai Kotal to Mazar- i- Sharif
33 -DAND- WA -PATAN


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | «نرۍ ورروځي» | | | | | |
| ډاګ | | شریف کلی | | سید شاه کلی | | هُجري کلی | Hujri Kalai |
| عبدالله کلی | | یارو کلی | | ملک میرا جان | | محمد ایاز کلی | |
| ملا کلی - ډنډي | | نبي کلی | | ملک دین محمد | | حسن خیل | |
| الګډ والو کلی | Algad Walo Kalai | شاپوله خوله | Shapola Khola | کوله | Kawlah, | وچه الګډه | Wocha Algada |
| تـېـرول ګډه | Tirulgada | ګوراندي | Gorandi | نرۍ | Narai | غونځي | Ghonzai |
| سورګی | Surgai | کوټ کلی | Kot Kalai | سیتي کلی | Seti Kalai | چینای کلی | Chenai Kalai |
| آسکو متو کځ؟ / هسکو متو کځ؟ - ژ | Asko Mato Kats | مانه میله | Mana Mila | زانده | Zandah | سیرون الګده | Seron Ulgadah |
| مزر – ی- الګډه | Mazr- i- Ulgadah | سال تک | Saltak | ګل دره | Guldarah | توري خیل | |
| غواوو کلی | Ghwawo Kalai | تره کي خیل | Taraki Khel | پټان علی | | پټان سفلی | |
| قلعهٔ مؤمن | | | | | | | |

* **دنګه**: ۱۶ ــ ۳۴، ۵۰ ــ ۶۷ «ن»: دا د «کوهٔ بادُرکه» [34] په سویل ختیځ کې چې د «درهٔ جلګي» یوه څانګه ده، یو کلی دی.

**دنګګ**: ۴۹ ــ ۳۴، ۱۸ ــ ۶۶ «ن»: دا د سرجنګل د دري په شمالي آبریز کې یو کوتل دی چې له دې دري څخه تر رودِ بندِ امیر پورې لاره ورڅخه تـېـرېـږي. له دې کوتله له دولت یار څخه تر مزار شریف او بلخ پورې لاره د «کت لیش او ایسفي میدان» [35] له لارې تـېـرېـږي. ویل سوي چې د کوتل په سویلي خوا کې لاره آسانه ده خو په شمالي خوا کې ئې بیا سخته ده چې د رس د ډبرو او د رس د شګو بنوینده ډېږ لري ؛ په دې توګه دا کوتل یوازې د کچرو د تګ لپاره عملی دی. له دغه اوب یللونکي څخه چې لاره تـېـریرېـږي په حقیقت کې د کابل د ولایت او د افغان تورکستان د ولایت پوله ده. کله نا کله دا کوتل څکه د «کاشان د کوتل» [36] په نوم هم یادېـږي ؛ دلته د کاشان په نوم یو منځغرۍ دی چې د کوتل له شمالي ډډې څخه تر بند امیر پورې غځېدلی دی. (آی. بي. سي) په دې نوم یوه نرۍ اوږده دره په ۳۶ ــ ۳۴، ۱۴ ــ ۶۶ «ج» کې واقع ده. اوسنی نقشي بندِ دنګګ په ۴۹ ــ ۳۴، ۱۷ ــ ۶۶ کې ښیي.

**دنګګ**: ۴۳ ــ ۳۴، ۱۸ ــ ۶۶: دا په همدې نامـهٔ یوهٔ منځغري کې د «کنګک د کوتل» [37] په سویلي لمن کې د دمې نیولو یو ځای دی. ویل سوي چې دا منځغرۍ دلته ۳۰۰ یارډه ار دی او سرتـېـرو ته د کمپ وهلو ځای په کښې سته. دلته څه ناځه کرهنه هم سوې ده چې تدارکات ورڅخه ترلاسه کیدای سي. دلته وابـنـهٔ نـهٔ سته خو بهوسه نسبتاً ډېـره ده. د سون

[34] -Kuh -i- Badurka
[35] -Katlish and Isfi Maidan
[36] -Kashan Kotal
[37] -Kangak Pass


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

توکو لپاه وچ بوټي سته او همدا شان په منځغري کي دننه د سيند د غاړي په اوږدو کي د ولي ونې شنې سوي دي. (آی.بي. سي)

## نور بيا

*** دانگام: د ننگرهار د ولايت يوه...**

**يادونه:** قدرمنو لوستونکو**!** تاسو تر دغه لینک لاندی د ښاغلی آريا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک، دوېم ټوک، دریم ټوک، څلورم ټوک، او د پنځم ټو: ټولي برخي لوستی شئ.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ